واحد فقیري ۲۰۱۳/۰۳/۲۲

# د جنرال مک کرسټل خاطراتو ته یوه لنډه کتنه

ښاغلی مک کرسټل له جون ۲۰۰۹ څخه بیا تر جون ۲۰۱۰ پورې په افغانستان کې د ایساف د قواوو عمومي قومندان وو. هغه په ۱۹۵۴ کې په یوې نظامي کورنۍ کې زېږېدلی دی، او د امریکا د ویسټ پوینټ په حربي پوهنتون کې یې لوړ تحصیلات کړي دي. جنرال مک کرسټل په شخصي ژوند کې ساده او سخت ګیره دی. هغه هره ورځ ۱۲ کیلومتره منډه وهي. په ورځ کې یو ځل ډوډۍ خوري، او په ورځ کې څلور ساعته خوب کوي.

ښاغلی مک کرسټل خپل خاطرات د والټیر په یوې وینا داسې پېل وي. « خدای د ډېرو عسکرو پر خوا ندی، بلکې خدای د هغه چا پر خوا دی چې رسا او نیغ ویشتل کا.» د مک کرسټل کتاب ۴۵۲ صفحې لري، او مهمې برخې یې د هغه پر کورنۍ او تحصیلي ژوند، عراق، او افغانستان باندې راڅرخي. پدې لنډه لیکنه کې، د افغانستان برخې ته زیاته توجه سوې ده.

د افغانستان په باره کې د جنرال مک کرسټل د خاطراتو اهمیت نه یوازې دا دی چې هغه په ۲۰۰۹ کې د ایساف د قواوو قومندان سو، بلکې افغانستان ته د یوې داسې ستراتیژي سره ولاړی چې د اوباما د نوې پالیسی د کامیابولو دروند بار یې هم پر اوږو پروت وو.

هغه یو متبکر او زړور جنرال وو، او کورنۍ یې د پوځي خدمت اوږده سابقه لري. مک کرسټل د یوه جنرال زوی دی. مور یې تاریخ او ادبیاتو ته معرفي کړی دی، او پلار یې لیډرشیپ ورښودل دی (مخونه، ۱۹- ۲۱). هغه ځان د تاریخ شاګرد بولي، او د ویتنام په باره کې یې په کافي اندازه فکر او مطالعه کړې ده.

د مک کرسټل په دوران کې، په افغانستان کې امریکایي عسکر قریب ۵۰ فیصده زیات سول. هغه د افغانستان اکثرو ویالاتو او ولسوالیو ته سفرونه وکړل، او له محلي خلګو سره له نژدو و کتل. هغه په پخپلو یادداشتونو کې د عراقیانو په ارتباط سړې خبرې کوي، خو د افغانانو په باب ښې او صمیمي خبرې کوي (مخ، ۲۷۷). هغه یو متواضع او زوړور جنرال وو چې د نظامي مسایلو او مشرتوب په باره کې یې د چین نظامي متفکر سون زو نظریات لوستي او نقل قول کړي دي. سون زو وایي که چیرې دښمن پرته له جنګه تسلیم سي، همدا تر ټولو ښه ستراتیژي ده. هغه وایي په جنګ کې قتل او غارت د حکومت لپاره لوی او خطرناک مشکلات زېږوي.

لیکوال په افغانستان کې د امریکا پر اشتباهاتو باندې اعتراف کوي، او د کابل اوسني حکومت غل او بې کفایته بولي (مخ، ۲۸۲). مک کرسټل وایي موږ د افغانستان حالاتو ته ډېر ساده کتل، مګر د افغانستان سیاسي جریانات تل ډېر مغلق وي. جنرال مک کرسټل وایي له بده مرغه ما په افغانستان کې خپله وظیفه پای ته و نه رسوله.

لیکوال هڅه کړې ده چې د امریکا په داخلي سیاست کې خپله بې طرفي وساتي. هغه وایي سپینه ماڼۍ، پنټګان، او نورو دخیلو ډلو غوښتل چې په افغانستان کې ښه لاره غوره کړي، خو هر یوه مشکل ته له مختلفو زاویو څخه کتل.

**د افغانستان د ماموریت په باب د مک کرسټل نظر**

مک کرسټل لیکي: «په ۲۰۰۸ کې، ما او څو تنو نورو قومندانانو د افغانستان پر جنګ باندې مرور او تجدید نظر وکړ، خو عیني شواهد ، ارقام ، ډېټا، او د خلګو د سترګو لیدلی حال او کیسې منفي وې. هر کال د امریکایانو او ملکي افغانانو مرګ ژوبله زیاتېده. یاغیانو په زیاتېدونکې توګه داسې غښت او خطرناک ماینونه ایښودل چې قوت او شمېر یې د ۲۰۰۵ په پرتله څلور چنده زیات سوی ول. » (مخ، ۲۸۳)

لیکوال په افغانستان کې د امریکا مداخلې ته په شک ګوري او داسې ښیي چې حتی په ۲۰۰۹ کې په افغانستان کې د امریکا ماموریت ناکامه وو، او په اصطلاح ډېر ناوخته سوی وو. په بل عبارت، د هغه په نظر په افغانستان کې کیسه پخوا لا خرابه سوې وه. مک کرسټل لیکي، « زه پوهېدم چې زه د یوه داسې جنګ قومنده ترلاسه کوم چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

له يوې خوا په زياتېدونکي توګه مشکلېدی، او له بلې خوا يې د امريکايانو په عامه ذهنيت کې خپل محبوبيت هم له لاسه ور کوی. ددغو فکټورونو په شتون کې، زه - البته زموږ د ټولو کوښښونو سره سره - ددې جنګ پر ګټلو باندې مطمين نه وم. زه پدې پوهېدم چې تر ما پخوا هم ولسونو مبتکر او هوښيار جنرالان لړزانه جنګونو ته استولي ول چې اکثرو خلګو يې پر ګټولو باندې باور له لاسه ورکړی وو. زه پدې هم پوهېدم چې د افغانستان په باب اکثرو خلګو همدا ګومان او مفکوره لرله. ما د تېرو لسو مياشتو په جريان کې په واشنګټن کې د تصميم نيولو پروسه څارله، او پدې هم پوهېدم چې ډېر کرغېړن جريان وو، څکه د افغانستان او پاکستان په ارتباط يې د متحده ايالاتو په پاليسی کې ژور اختلاف او کشمکش ښودی. له اتله کلن جنګ راوروسته، ما پخپلو عالي رتبه مامورينو کې د افغانستان لپاره هغه شوق او علاقه نه لېدله چې زما په ګومان په افغانستان کې ورته ضرورت احساسېده. افغانستان ته له تګ څخه څو اونۍ مخکې، ما او جنرال راډ به د شپې په تېارو کې د راتلونکو چلينچونو په باب خبرې او سوچ کاوه، او عموما به مو د خپل بريالیتوب چانس سم نيم يعني پنځوس فيصده ليدی، او هغه هم يوازی هله چې يو لړ اساسي تغييرات عملي سي.» (مخ،۲۸۸)

**افغانستان او خارجي مداخلې**

ليکوال په ۱۹ پېړۍ کې په افغانستان کې د انګريزانو د مداخلو په اړه وايي: د ايساف د قومندان په توګه کابل ته له رسېدو څخه فقط يو څو اونۍ راوروسته پاکستان ته په رسمي سفر رهی سوم. له فضا څخه د افغانستان اراضي ته متوجه وم. دلته يو وخت د انګريزيانو او روسانو تر مينځ يوه ستره لوبه روانه وه. همدا غرونه، وچ دښتونه، او زرغونې درې د هند د ساتلو لپاره حياتي اهميت لاره. د برتانيي ستراتيژي دا وه چې روسان او فرانسويان لدې ځايه ليرې وساتي. د همدې هدف د لاسته راوړلو لپاره انګريزيانو څو ځله په افغانستان کې مداخلې وکړې. انګريزيانو پسله څو خونړيو جګړو، ماتو، او کاميابيو راوروسته د بفر زون د جوړولو لاره واخيسته. د همدې هدف د لاسته راوړلو لپاره هغوی په افغانستان کې يو داسې کمروزه، مطيع، او دوست افغان مشر غوښت چې د نورو طاقتونو سره د روابطو ټينګولو څخه تېر وي. هغوی افغان مشرانو ته معاش او مستمري مقررې کړې او يوازې يې د خطر په وخت کې د برتانيي د نظامي مټ د استعمال له تهديد څخه کار اخيست. دا طريقه ښه نه وه څکه په افغانستان کې يې د دولت د جوړېدو او پخېدو مخه ونيوله، خو البته د انګريزيانو لپاره په هغه وخت کې موثره وه. بالاخره په ۱۸۹۳ کې د ډيورنډ جنجالي کرښه پښتانه او بلوڅان جلا کړل. په همدې وخت کې چې زه له افغانستان څخه پاکستان ته اوړم، افغانستان د ډيورنډ کرښه په رسميت نه پيژني. ( مخونه، ۳۲۶ – ۳۲۷)

**د شوروي د ماتې په باب**

ليکوال وايي: شوروي په افغانستان کې د مخالفانو د محو کولو لپاره له زيات تشدد او قوي څخه کار واخيست. همدې تشدد او مرګ ژوبلې د شوروي ستراتيژي په افغانستان کې ناکامه کړه. د هغوی همدا اشتباه زموږ لپاره هم د عبرت درس لري(مخ، ۳۳۲). مک کرسټل ادامه ورکوي او وايي: په ۱۹۸۶ کې، شورويانو د کندهار د تاريخي ښار د ابلولو نيت وکړ. شورويانو خپل هدف ته د رسېدو په مقصد د کندهار ښار او اطراف بې امانه بمباري کړل. د شوروي عسکرو به د شپې غټ او روښانه پانوسونه د ښار په مختلفو ځايونو کې وغورځول او بمباري به يې شروع کړه. په ۱۹۸۷ کې، شورويانو د کندهار ښار بشپړ خراب او سټ کړ( مخ، ۳۸۱).

ليکوال ادامه ورکوي او ليکي: په ۱۹۷۹ کې، په افغانستان کې د شوروي مداخلې او د ساړه جنګ تاوو د امريکا پوځ ته توجه زياته کړه. د جمهورريس ريګن په دوران کې د متحده ايالاتو اردو ته په کافي اندازه منابع ور کړه سوې، او دې حالت د پوځ نظامي قابليتونه او مهارت لا غښتلي او عصري کړل.

مک کرسټل وايي: په افغانستان کې زموږ جنګ په ۲۰۰۱ کې ندی شروع سوی، بلکې کله چې شورويانو په افغانستان کې مداخله وکړه، موږ هم سمدستي عکس العمل وښود. د جهاد په دوران کې، مجاهدين زموږ او سعودي په پيسو چلېدل، خو سياسي لوبه د پاکستان لخوا اداره کېده. ( مخ، ۲۸۰)
هغه وايي: د شوروي له وتلو سره سم، متحده ايالاتو هم افغانستان او پاکستان ته شا کړه (مخ، ۳۲۷). د شوروي عسکرو له وتلو سره سم په افغانستان کې حالات خراب سول، او مجاهدين، جنګسالاران، او جنايتکاران په داخلي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

جنګ کي لګيا سول. افغانان همدا جنګسالاران ښه پېژني، هغوی پوهېږي چي دوی په لږ وخت کي د زياتو پيسو او قدرت خاوندان سول. (مخ، ۳۹۱).

**د افغانستان حکومت په اړه د مک کرسټل نظر**

ليکوال وايي: د طالبانو له سقوط څخه را وروسته په لومړيو کلونو کي د افغانستان حالات تر کنټرول لاندي ښکارېدل. طالبانو د حامد کرزي د حکومت اجرااتو او فعاليتونو ته وخت ورکړی وو. خو د حکومت کمزوري او فساد سمدستي د يوه غښتلي ښورښ شکل نيولو ته لاره هواره کړره، او مخالفين د ليډرشيپ او مرکزي قومنده خاوندان سول. د طالبانو رژيم پخواني مامورين د کويټي په لور ورشوه سول، او د طالبانو مرکز او مشرتوب په کوټه کي متمرکز سو. د هغوی اکثره قومندانان او مشران د جهاد د دورې مجاهدين دي چي د شوروي عسکرو پر ضد يې جنګي تجربه ترلاسه کړې ده.

ليکوال ادامه ورکوي او ليکي چي طالبان د هېواد جنوب او شرق ته کوچيني سيار ګروپونه لېږي، او هلته د ناټو او افغان حکومت پر عسکرو باندي دومداره حملې کوي. هغوی د افغان حکومت مامورين، د خيريه موسساتو کارګران، او د ښځو استازي ترورو وي.

طالبانو د افغان حکومت د کمزورۍ او غلا څخه پوره ګټه اخلي. د افغان حکومت لخوا د عدالت نه ټينګېدل او د اقتصادي پرمختګ نه راتلل د طالبانو لپاره داسي مناسب فرصتونه برابر کړل چي هغوی يې پدې وتوانول چي په ګرده هېواد کي د ښورښ او مقاومت زني ښخي کړي. په عمومي توګه، د کابل حکومت مقدماتي خدمات خلکو ته نه سي برابر ولای.

د حامد کرزي د حکومت بله خطرناکه اشتباه دا وه چي د طالبانو له سقوط سره سم يې په هېواد کي وارلاډان حاکم کړل. له همدې لاري هغوی د افغانستان په اقتصاد کي مهم او فعال خلګ سول، او په خپلو سيمو کي يې نظامي مليشاوو پيدا کړې. هغوی همدا سيمي د ظالمو حاکمانو په شان اداره کوي.

ددې حالت په راوستلو کي مونږ هم ګرم يو. مونږ په کلونو د «پيکه پل» او په افغانستان کي د لږو عسکرو د لرلو پاليسي غوره کړې وه. د ناټو تمرکز پر کابل باندي وو، او ولايات يې منفورو جنګسالارانو ته خوشي کړي ول. مونږ همدې توپکيانو ته په پېخر ډالرونه ورکول. په ۲۰۰۴ کي، ناټو عسکر نورو ولاياتو ته هم وغځېدل، خو افغان عسکر ورسره ملګري نه ول. د هغوی شمېر کم وو، نو څکه يې په سيمه کي مثبت انکشاف نه سو را و ستلای. پدې وخت کي طالبانو وده وکړه او ځيني ځايونه يې پرته له جنګه ونيول. په ۲۰۰۵ کي، هغوی واليان لرل او د کابل حکومت سره يې موازي تشکيلات لرل. (مخونه، ۲۸۲- ۲۸۳ )

**ويتنام**

په افغانستان کي د امريکا مداخلي ليکوال دېته وهڅوی چي د ويتنام په باب ځيني اثار او کتابونه يو ځل بيا مطالعه کړي. « د تاريخ د يوه شاګرد په صفت زه د ويتنام د مداخلي په ارتباط حساس وم، مګر زما لپاره د ويتنام درسونه په افغانستان کي عملي نه ول.» خو ليکوال د افغانستان په حالاتو کي د ويتنام علامي او نښاني ګوري (مخ، ۳۵۲). ليکوال د ويتنام د جنګ په دوران کي په حربي پوهنتون کي محصل وو، مګر پلار يې د ويتنام په جنګ کي افسر وو. هغه د ويتنام په باب د يوه بل ليکوال نظر داسي بيانوي: په ويتنام کي، زموږ ډېري ناکامی د غلط تحليل په خاطر نه وې، بلکي د هغو سياسي فيصلو په خاطر وې چي د همدې تحليلونو له منطقي نتيجي څخه يې سترګي پټولې. همدې ليکوال باور لاره چي د امريکا سياسي مشران د غلطي مشورې او يا جهالت په خاطر پر غلطه لاره نه ول روان سوي، بلکي هغوی د دوو داسي فيصلو سره مخامخ ول چي په سياسي لحاظ خطر ناکي او سختي وې. مګر همدا تحليلونه په نظامي لحاظ موجه او منطقي ول، او هغه دا چي خروج يا پوره مداخله (مخ، ۳۵۲). سياسي مشران د سياسي ملحوظات په خاطر نوري داسي پاليسۍ غوره کړې چي همدې تحليلونو يې د ناکامۍ احتمال قوي باله. مک کرسټل وايي: دا يو ډارونکي مفکوره وه، خو د يوه عسکر په صفت زما تعهد دا وو هر تصميم چي زما ملکي ليډرشيپ غوره کړي، زه به تر خپل وس پوري د هغه په عملي کولو کي هلي ځلي وکړم. (مخ، ۳۵۱)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

**کندهار که هلمند؟**

مک کرسټل وايي: د سرج په پیل کي ولي هلمند ته تر کندهار زياته توجه سوې وه، زه هم نه پوهېدلم. د مک کرسټل ګومان دا دی که چيري د کابل او کندهار پر امنيت باندي تمرکز سوی وای، د حالاتو د ښه کولو سره به يي ډېر کومک کړی وای. پر کندهار باندي د ناټو نه ټينګار د هغه لپاره د تشويش خبره وه. ليکوال وايي، « کله چي ما قومنده تر لاسه کړه، ايساف د هلمند لپاره پوره تیاری نيولی وو» (مخ، ۳۲۳). کندهار په جنوبي او غربي افغانستان کي مهم او تاريخي ښار دی. د کندهار د تاريخ پيل سکندر مقدوني ته رسيږي. همدلته د اوسني افغانستان د جوړېدو لومړی خښته په ۱۷۷۴ کي کښېښودل سوه چي د امريکا د استقلال له اعلاميي څخه ۳۳ کاله مخکي وه. همدا ښار د حامد کرزي د مشروعيت لپاره هم حياتي اهميت لاره (مخ، ۳۷۷ ). په کندهار کي، ډاکټر ويسا والی وو. هغه يو مهذب او تحصيل کرده شخص وو چي د کندهار پوهنتون په تاسيس کي يې مهمه ونډه لرله. خو په کندهار کي احمد ولي کرزی ډېر قدرتمن وو، او ډاکټر ويسا قدرت نه لاره.

واحد فقيري – واشنګټن



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ